مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۷مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۷مه | ۶۹۸یمه ګڼه


# د مسکو د غونډې په درشل کې؛

## د افغان حکومت شپاړس کسیز پلاوی نن مسکو ته ځي



۳

د جګړو پای او اوربند؛
د افغانانو لپاره لومړیتوب دی
۲ مخ

د چین کمونېست ګوند خپل
هېواد ته څه وکړل؟
۲ مخ

افغان سوله؛ کاذب خیال که
رښتینی هوډ؟
۳ مخ

## بشري حقونو کمېسیون: ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره وینې بهېدنې ته د پای ټکی کېږدي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د جګړې له ښکېلو اړخونو غوښتي، چې هېوادوالو او په ځانګړې توګه د جګړې قربانیانو ته دې د سولې په خبرو کې په پراخ توګه د ګډون زمینه برابره کړي.

د یاد کمېسیون له لوري په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دواړه لوري دې د بشري حقونو اساسي اصولو ته په پاملرنې په هېواد کې رواني جګړې او وینې تویېدنې ته د پای ټکی کېږدي. دغه کمېسیون ویلي، چې د مرکچي پلاوي په ترکیب کې د ښځو حضور هم ډېر کم رنګه دی او باید تر ډېرش سلنې لوړ شي.

د بشري حقونو کمېسیون دغه راز د اسلامي فقهې د عالي شورا د صلاحیتونو او اختیارونو په برخه کې د مذهبونو د تنوع او د ښځو د حضور په اړه هم د وضاحت غوښتنه کړې ده.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون داسې مهال د جګړې له ښکېلو غاړو دا غوښتنه کوي، چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د افغانستان د راتلونکي نظام په اړه د امریکا طرحه پر افغان حکومت، افغان سیاسیونو او طالبانو سربېره، له یو شمېر نورو سیمه ییزو هېوادونو سره هم شریکه کړې او په همدې تړاو به راتلونکې میاشت په ترکیه کې ناسته هم ترسره شي.

د ښځینې نړیوال سازمان:

## افغان حکومت د خلکو د خوندیتوب په برخه کې پاتې راغلی



۵ مخ

# کتاب


۴ مخ

## د ژوند مهارتونه




د ژوند مهارتونه کتاب تازه چاپ شوی دی. دغه کتاب حمیدالله حمیدي پښتو ژبې ته را ژباړلی دی. په دغه کتاب کې د ځیرکانه ژوندانه ۱۱٦ ګټورې تګلارې په ګوته شوې دي، لوستل یې در سره مرسته کوي څو په هغه ډول ژوند وکړئ، چې تاسو یې هیله لرئ.

## خپلواک: د کمال خان بند چارې بشپړې شوي، ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې چارواکي وایي چې په نیمروز کې کمال خان بند د رغونې چارې بشپړې شوي او د راتلونکې اونۍ د دوشنبې په ورځ به په ځانګړو مراسمو کې پرانیستل شي.

د یادې ادارې ویاند، نظام الدین خپلواک ویلي: «د جوړولو چارې یې بشپړې شوي او راتلونکی میاشت ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. تر ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو زیات لګښت وربادنې راغلی چې د ۵۲ میلیونه متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري او د دې تر څنګ به ۱۷۴ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي.»

کمال خان بند چې د نیمروز په چهاربرجک ولسوالۍ کې د هلمند پر سیند جوړ شوی، د ۹ مېګا واټه برېښنا د تولید ظرفیت هم لري. د یادونې ده چې افغان چارواکي وایي چې د هېواد د اوبو د مدیریت لپاره په منظم پلان کار کوي چې په دې سره به ګاونډیو هېوادونو ته تلونکې میلیاردونه متره مکعب اوبه مدیریت شي.

ستولتنبرگ:

## متحدین ناتو با دقت مشغول بررسی وضعیت افغانستان استند




سرمنشی ناتو بحث‌ها در مورد پروسه صلح افغانستان را مهم می‌داند و از آن حمایت می کند.

ینس ستولتنبرگ که در یک نشست خبری آنلاین از بروکسل به پرسش‌های خبرنگاران پاسخ می‌داد، گفت، از تلاش‌های فعلی در پروسه صلح و توافقی که سال گذشته میان ایالات متحده و طالبان امضا شد، پشتیبانی می کند و آنرا به نفع افغانستان می‌داند.

او افزود که سهم کشورهای منطقه در مسئله افغانستان خیلی مهم است و آن‌ها باید مسئولیت‌های شانرا برای کمک در پروسه صلح بپذیرند.

به گفته ستولتنبرگ در حال حاضر متحدین ناتو با دقت مشغول بررسی وضعیت افغانستان استند: «ما ارزیابی‌ها، بحث‌ها و مشوره‌ها را با نزدیک شدن به ضرب الاجل اول می در ناتو ادامه می‌دهیم. این یکی از بحث‌های کلیدی در اجلاس هفته آینده وزیران خارجه ناتو خواهد بود.»

سرمنشی ناتو گفت که وزیران خارجه کشورهای عضو این پیمان نظامی در اجلاس هفته آینده شان در مورد سرنوشت نیروهای ائتلاف در افغانستان بحث می کنند.

به گفته او، در حال حاضر شمار نیروهای سایر کشورهای ائتلاف، در مقایسه با ایالات متحده در افغانستان بیشتر است.

بر اساس آمار ماموریت حمایت قاطع ناتو در حال حاضر شمار نیروهای بین‌المللی در افغانستان به حدود ۹٦۰۰ تن می‌رسد که از میان آن‌ها، ۷۱۰۰ تن شان غیر امریکایی استند.




## سرلیکنه

### د جګړو پای او اوربند؛ د افغانانو لپاره لومړیتوب دی

سره له دې چې د سولې هڅې ګړندۍ شوې، خو په وروستیو کې امنیتي پېښو د خلکو ژوند تریخ کړی دی. ورمه ورځ په کابل کې د دریو ملکي ادارو پر ملکي کارکوونکو چاودنه وشوه، چې د یوې درې کلنې ماشومې په ګډون یې څلور کسان ووژل او شاوخوا پنځلس نور یې ټپیان کړل. وروستي راپورونه خو دا وایي چې د وژل شوو شمېر ان پنځو ته لوړ شوی دی. له دې پېښې یوه ورځ وړاندې د کابل ښار په زړه کې ماښام مهال دوې پرله پسې چاودنې وشوې چې شاوخوا دوولس کسان یې ټپیان کړل. پرون بیا په بغلان کې د پوهنتون پر استادانو راکټي برید شوی و چې شپږ استادان پکې ټپیان وو، یو محصل او یو موټر چلوونکی وژل شوي دي.

دغه ډول پېښې چې ملکي وګړو ته یا هغو کسانو ته چې د جګړې له هېڅ لوري سره نه دي ولاړ، زیان اړوي، خورا خطرناکې او بورنوونکې دي. د کابل په پېښه کې داسې یوه مېرمن وژل کېږي، چې هغه مېندواره وه او خپله درې کلنه لور یې هم ورسره وه. مور او لور دواړه تر سترې کاري ورځې وروسته د کابل ښار په امنه سیمه کې په یوه عامه بس ډوله موټر کې وژل کېږي. دا غیر انساني او د نه منلو عمل دی. بورنوونکې پېښه ده او ویښ وجدانونه یې په اورېدلو او لیدلو چوپ نه شي پاتې کېدلی.

سره له دې چې د سولې هڅې پیل شوې، خو عام افغانان د جګړې له وحشتناک او وېروونکي تصویر لا نه دي وتلي. لا هم پر دوی بریدونه او د دوی مرګ ژوبله د رسنیو سرټکي دي. دا یوه معموله خبره ده، چېرته چې د سولې غږ پورته کېږي، هلته باید د ټوپک غږ تر هر څه مخکې چوپ شي، خو دلته کیسه عجیبه روانه ده، ولس سوله غواړي، له جګړو ستړی دی، د سولې خبرې پیل دي، خو د ټوپک غږونه هم ښه لوړ دي او دواړه لوري په خپلو څرګندونو او خبرو کې یو بل ته زور او خپله وړتیا ښیي.

د سولې په دې حساسو شرایطو کې تر ټولو مهمه مسئله دا ده چې باید لومړی او تر هر څه مخکې اوربند وشي. دواړه لوري دې نور ملکیانو ته دا جوړ کړی دوزخ رنګ کړي او د خبرو له لارې دې یوې پایلې ته ورسېږي. د پوهنتون استاد وژل، د ملکي اداري پر مامورینو وحشتناک برید کول، عامه تاسیسات ورانول او د سولې په رامنځ ته شوي فرصت کې جګړو او جګړه ییزو څرګندونو ته لمن وهل د دغه ملت په حق کې ظلم دی او ان باید جنایت وبلل شي. نړیوالې ټولنې، امریکا، د سیمې هېوادونو په تېره د ترکیې او مسکو د کنفرانسونو له ګډونوالو د افغانانو ستره غوښتنه د اوربند تامین دی. دغه اړخونه باید ژر تر ژره روانه جګړه ختمه کړي او د اوربند د رامنځ ته کېدو او تاوتریخوالي د ختمېدو لپاره دې فشارونه زیات کړي. په دې سره به مور د خپلو ماشومانو په مخ کې نه وژل کېږي او د پوهنتون چپتر به د استاد په وینو نه سور کېږي.

# د چین کمونېست ګوند خپل هېواد ته څه وکړل؟

جاوید کوټوال




مور غواړو په دې مطلب کې د چین د کمونېست ګوند په اړه او تر څنګ یې په افغانستان کې د یوه ملي او ځواکمن ګوند پر اړتیا خبرې وکړو.

د چین پېژندلو لپاره تر ټولو لومړۍ او مهمه خبره د چین کمونېست ګوند (Chinese Communist Party or Communist Party of China)، CCP یا CPC په اړه معلومات درلودل دي.

که څه هم په چین کې له سي سي پي پرته اته نور سیاسي ګوندونه فعالیت لري، خو د چین کمونېست ګوند تر ټولو پیاوړی او تقریباً د دغه هېواد ټول واک په لاس کې لري.

د ګوند کانګرېس چې مرکزي کمېټه پکې ټاکل کیږي، هر پنځه کاله وروسته تر سره کیږي او پکې دوه زره د ګوند استازي ګډون کوي. په دې کانګرېس کې ۲۰۴ غړي د مرکزي کمېټې لپاره انتخابیږي، چې له ډلې یې اووه غړي د سیاسي بیوریو غړیتوب لري.

د چین کمونېست ګوند په لومړي ځل په ۱۹۲۱ کال کې په شانګهای کې تاسیس شو، چې ۵۷ غړي یې درلودل او ډېر ژر یې په چینایي ټولنه کې د خپل قوت ریښې وغځولې.

د دغه ګوند لومړنیو مشرانو هماغه مهال له شوروي سلاکارانو مرستې او لارښوونې تر لاسه کولې او ډېر یې د ښوونې او روزنې لپاره دغه هېواد ته لاړل. په لومړیو وختونو کې سي سي پي د شوروي طرزالعمل پر اساس د فکري او ښاري کارمندانو لخوا رهبري کېده.

په ۱۹۴۹ کال کې د چین خلکو جمهوریت له رامنځ ته کېدو راهیسې، لا هم دغه ګوند د یوازیني حاکم ګوند په توګه له پالیسۍ جوړولو تر نظامي چارو، د هېواد ټوله اداره په لاس کې لري او د یوه ګوند دولت بلل کیږي.

د احصایو له مخې، د ۲۰۱۹ کال تر پایه د سي سي پي د غړیو شمېر ۹۱ میلیونه، ۹سوه او څوارلس زرو تنو ته رسېده، په دې مانا چې د ټول نفوس شاوخوا ۶،۴ سلنه خلک د دغه ګوند غړي دي او د دنیا له غټ ترینو ګوندونو حسابیږي.

د ګوند جوړښت د هرم په څېر دی، چې په راس کې یې ولسمشر شي جین پېنګ دی. له ولسمشر را ښکته د سیاسي بیوریو نهه کسیزه ډله د واک او تصمیم نیولو ډېر صلاحیت لري او درې مهم ارګانونه تر کنټرول لاندې لري:

۱ـ دولتي شورا؛
۲ـ د نظامي چارو مرکزي کمېسیو ن ؛
۳ـ او د خلکو ملي کانګرېس یا پارلمان.

د چین کمونېست ګوند څلور اساسي اصول «خپلواکي، بشپړه برابري، متقابل درناوی او د یو بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه» تعقیبوي او په نړۍ کې د سولې او عدالت د راوستلو لپاره پر انټرنېشنالېزم ټینګار کوي.

د یاد ګوند غړي د چین د نفوس په هره طبقه کې شته، خو ډېری غړي یې عام خلک دي او عادي ژوند کوي.

کله چې په هېواد کې ناورین راځي او خلک له ستونزو سره مخامخ کیږي، نو په لومړي سر کې د دغه ګوند غړو ته لارښوونه کیږي، چې د خلکو خدمت ته راووځي، ښه بېلګه یې د ۲۰۲۰ کال د کرونا وبا وه، چې د چین د کمونېست ګوند ۳۹ میلیونو او یو سلو ۴۴ زرو غړو یې پر وړاندې مبارزه وکړه.

دا په لومړي حد کې د ګوندي فعالیت او خدمت او دغه راز د اشتراکیت یا Collectivism د کلتور یوه ښه نمونه ده، چې په ټولیز ډول د اجتماع اوسېدونکي د خپلې ټولنې د رفاه لپاره لاس پکار کیږي.

پر دې سربېره، د حکومت او په خاص ډول د یاد ګوند د هڅو پایله وه، چې له اتو کلونو پرلهپسې زیار وروسته یې ۱۰۰ میلیونه وګړي او په ټولیز ډول په تېرو څلورو لسیزو کې اووه سوه میلیونه انسانان له فقر را وایستل او په خپل هېواد کې یې په مطلق ډول بېوزلي ختمه اعلان کړه.

له دې بریا وروسته د چین حکومت اعلان وکړ، چې دغه هېواد د ملګرو ملتونو د ۲۰۳۰ کال د دوامداره پرمختګ د اجنډا موخه، لس کاله دمخه پوره کړې ده.

د چین کمونېست ګوند ایډیالوژي له پیله تر اوسه څو ځلې بدله شوې ده. په مارکسېزم-لنینېزم کې چې لا هم ادعا کیږي د دغه ګوند اصلي ایډیالوژي ده، په تدریجي ډول د اقتصادي مارکېټ اصول داخل شوي دي او دې کار له ۱۹۷۸ کال راهیسې دوام کړی.

اوس د چین سیاسي جوړښت یا سیستم د سي سي پي لخوا «د چینایي خصوصیاتو درلودونکی سوسیالېزم» تعریفیږي.

مور څه وکړو؟

د چین کمونېست ګوند د بنسټ اېښودلو پر مهال په دغه هېواد کې ملوک الطوایفي حاکمه وه او د مختلفو جنګسالارانو لخوا اداره کېده. دغه راز ټولنه له سختو ستونزو سره مخ وه او په ټولو عایداتي او مهمو سرچینو فاسد چارواکي حاکمان وو.

یاد ګوند د همدغو ناخوالو د له منځه وړلو لپاره د ټولنې له منځه راټوکېد او ټول چینایي ملت یې سره یو موټی کړ.

د چین د خلکو او په ځانګړي ډول د همدې ګوند د هڅو او زیار پایله وه، چې دغه هېواد د نړۍ په دویم لوی اقتصاد بدل شو.

د افغانستان په معاصر تاریخ چې ډېر وخت پکې د جګړو داستانونه بیانیږي، ښایي د سیاسي او ملي ګوندونو څرک ډېر کم ولیدل شي. ډېر وخت پکې د تاریخ اتلان هغه کسان دي، چې د قدرت تر لاسه کولو لپاره یې خپل ملت ځپلی او وژلی وي.

د تېرو ۱۰۰ کلونو په ترڅ کې او په ځانګړي ډول له ۱۹۶۴ کال راهیسې، چې د افغانستان اساسي قانون سیاسي احزابو ته د ازاد فعالیت اجازه ورکړه، لا هم په دې هېواد کې د ملي عقایدو او ملتپالنې پر ستنو ولاړ سیاسي ګوندونه رامنځ ته شوي نه دي. ډېر وخت دوی ته ایډیالوژۍ له بهر واردې شوې یا هم د ژبنیو او سمتي تعصباتو ښکار شوي دي. همدا علت دی چې کمزوري شوي او له منځه تللي دي.

اوس چې افغانستان په یوه نوي سیاسي بهیر ورګډېږي، افغانانو ته پکار ده چې د خپلو ملي او کلتوري خصوصیاتو په نظر کې نیولو سره، د یوه واحد ملت لپاره هېواد شموله داسې ګوند یا ګوندونه جوړ کړي، چې په رښتیا هم د خلکو هوساینه او د افغانستان پرمختګ او یو موټی کول یې ارمان وي.

## ولسمشر غني: له ټاکنو پرته په هېڅ صورت چاته واک نه سپارم




ولسمشر غني یو ځل بیا ټینګار کړی، چې ټاکنې په افغانستان کې د واک د انتقال مشروع بهیر دی. هغه ویلي: « که طالبان همدا سبا هم انتخاباتو ته حاضر وي، مور تیار یو، خو له ټاکنو پرته خپل ځایناستي ته د واک لېږد ته حاضر نه یم. ۴۲ کاله جګړه بس ده او مور هم د نورې نړۍ په څېر د ژوند کولو حق لرو.»

له ارګه په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې ولسمشر غني تېره ورځ د بهرنیو چارو په وزارت کې «د خارجي سیاست لومړیتوبونه او د هېواد د ډیپلوماسۍ دستګاه کې اصلاحات» تر عنوان لاندې په یو سیمینار کې دا څرګندې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ولسمشر غني ته په استول شوي لیک کې خبرداری ورکړی، که د سولې بهیر چټک نه کړي، له طالبانو سره جګړې ته به یوازې پاتې شي.

په لیک کې له غني څخه غوښتل شوي، چې د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د وړاندیزونو په اړه رغنده درېځ پراخ کړي.

د خلیلزاد په وړاندیزونو کې د «سولې انتقالي حکومت» هم شامل دی، چې د نوي اساسي قانون له تصویب او ملي ټاکنو څخه وروسته به واک یو دایمي دولت ته لېږدوي. د ارګ په اعلامیې کې راغلي، چې غني د افغانستان د سولې لپاره د امریکا متحدو ایالتونو له ببرې څخه د منني ترځنګ ویلي، چې مور د سیمې او نړۍ د هر هېواد په پرتله سولې ته د رسېدو لپاره سل چنده ببړه لرو، خو عادلانه او پایداره سولې ته د رسېدو لپاره د احساساتو پر ځای د واقعیتونو پر اساس مخکې ځو».

تر دې مخکې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح هم ویلي وو، چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر لیک د سولې په اړه د افغانستان په درېځ کې هېڅ نه شي راوستلی.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې روسیه د مارچ په ۱۸مه د افغانستان په اړه د سولې د یوې غونډې کوربه وي. د افغان حکومت او طالبانو استازي هم په دغه غونډه کې برخه اخلي.

# افغان سوله؛ کاذب خیال که رښتینی هوډ؟

کریم حیدري؛ بي‌بي‌سي

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د ملي پوځ د ورځې په لمانځغونډه کې له نړیوالې ټولنې گیله وکړه، چې ځلوېښت کاله یې افغانستان د سولې له حقه محروم ساتلی. خو د افغانستان په ناخوالو کې یوازې نړیواله ټولنه گرمه نه ده. د هغوی لاسوهنه د خپلو سیاسي موخو لپاره ده.

د شوروي یرغل پر مهال د رونالد ریگن اداري دریځ دا و چې تر هغه چې یو افغان ژوندی وي، د شوروي ضد مرستې به له افغانانو سره کیږي.

د هغه وخت حکومت مخالفینو به ویل، تر هغه چې یو افغان ژوندی وي، د شوروي اتحاد پر ضد به جنگیږي. امریکا او جهادي ډلو یوه خبره کوله او گټې یې شریکې وې.

توپیر یې دومره و چې د امریکا لپاره جگړه وسیله وه او د افغان مینه‌والو لپاره یې جهاد. داسې ښکاریده چې د وژنې، ویجاړۍ او تباهۍ د مخنیوي په اړه یوه لوري هم فکر نه کاوه.

افغانستان کې د امریکا او نړیوالې ټولنې له ښکېلېدو سره هغه ډلې ټپلې او کسان یو ځل بیا واک ته ورسېدل، چې عام ولس یې د تېرو کړنو محاکمه غوښته.

خو له زورواکو سره له معاملې پرته امریکا بله لار نه لیدله. کوم پیاوړی بدیل یې نه موند. ځپل شوي ولس کې د یو موټي کېدو تومنه هم نه وه.

رښتیني مشران د عدالت له غبږ اوچتولو مخکې زورواکو په گونډو کړل، ځینې نور امریکایانو د ترهگرۍ په تور په بگرام کې په سپیو وداړل او گوانتنامو کې یې د ناهیلۍ تورتم ته وسپارل. ځینې پکې وطني او نړیوال ترهگر وو، خو ځینې نور پکې خړ پړ افغانان. اوس د واشنگټن نوې اداري یو ځل بیا د سولې خبرې د زلمي خلیلزاد له سفر سره راپورته کړې دي. د لنډمهاله حکومت او نړیوال کنفرانس گنگوسې هره افغان سیاسي ډله د خپلې گټې لپاره خپروي.

اوسنۍ هڅې څومره اغېز لري؟

خو ایا د بهرنیانو د سولې هڅې که رښتینې یا ظاهري وي، څومره اغېز به ولري؟ د افغانستان پېچلي وضعیت ته په کتو یوازې افغانان خپل کور ته سوله راوستی شي، که څه هم بهرنی ملاتړ ورته اړین دی. وایي، که نه ځې، په شا به دې کړم، چې نه خورې څه به دې کړم؟

د افغانستان په جگړه کې دواړه کورنۍ ښکېلې ډلې په یو بل ناباوره دي او د یو بل د سولې په هوډ شک کوي.

افغان حکومت طالبان د پاکستان استخباراتي شبکې گوډاگیان بولي، خو طالبان دولت د امریکا لاس پوڅی گڼي.

دولت له پاکستان سره ډیپلوماتیکې اړیکې ساتي، طالبان له امریکایانو سره روغه جوړه کوي؛ خو دولت او طالبان د یو بل وینې ته تږي ناست دي. دومره کرکه د مسلمان او نامسلمان تر منځ هم ښایي نه وي.

دا ډول ناباوري په نولسمه پېړۍ کې د هند په مسلمانانو کې هم وه. له دیني مدرسو راوتلي سخت دریځه مسلمانانو په عصري علومو سمبال مسلمانان د دین دښمنان بلل.

مقابل لوري بیا ملایان له سیاسي وضعیت ناخبره او په خوب ویده گڼل. د دوی تر منځ نفاق د برېتانوي استعمار په گټه و.

هندوانو او د هند برېتانوي حکومت دواړو ته په یوه سترگه کتل. د هند مسلمانانو دواړو ډلو خپل پایښت په خپل هویت یاني اسلام پورې تړلی باله؛ خو تر منځ واټن یې څه په خپل لاس او څه د واکمن رژیم لخوا په ډېرېدو و.

د اسلامي نړۍ د ویښوني مخکښ سیدجمال الدین افغان چې کله هند ته ولاړ، دواړه ډلې یې د یوه او بل لازم او ملزوم وبللې.

د لوېدیځ څواک پر وړاندې عصري علوم یې اړین او له فساده پاکې ټولنې لپاره یې اسلامي اصول غوره وبلل. دواړې ډلې یې پخلا کړې او ان هندوان یې د استعمار پر وړاندې وهڅول.

په هند کې د اروابناد سیدجمال الدین د پاتې کېدو مخه ونیول شوه؛ خو د استبداد پر وړاندې فکري لارښوونه یې د هند مسلمانانو او هندوانو ته ورکړه.

همدا فکر اقبال لاهوري په خپلو شعرونو او مقالو کې وسپړ، چې په هند کې د خپلواکۍ سیاسي هڅې ورسره پیاوړې شوې.

د هند اسلامي ټولنه نه یوازې سیاله شوه، بلکې راتلونکي اسلامي هېوادونه لکه ختیځ پاکستان (بنگلادېش) او لوېدیځ پاکستان جوړ شول.

## د افغان برى او د سید افغان اندېښنه

انگرېزانو د جگړې په ډگر کې ماتې وخوړه، خو که زموږ علم او شعور په اوسني حال پاتې شي، دا بریا به لنډمهاله او بې گټې وي.

ښایي په دې د افغان حکومت هم سر خلاص وي چې د نړیوالې ټولنې پر مرستو سربېره، په یوازې سر واکمني د جگړې او وینې بهېدنې دوام دی. د طالبانو په لیکو کې هم خلک له جگړې ستړي شوي.

د یوې جگړې لپاره د افغانستان له نورو سیمو جنگیالي ورغواړي او په نابلده سیمه کې درانده تلفات زغمي. نو اړ دي چې د یو څواکمن راتلونکي حکومت لپاره مصلحت وکړي.

ان که خپله بریا شونې هم بولي، د بشپړ حکومت وړتیا په دوی کې نشته. جنگیالي یوازې په جگړه کې توریالي دي. حکومتولي د سیاست او اداري تجربه غواړي.

خو طالبان د یو پیاوړي څواک په توگه د نظام مهمه برخه جوړولی شي. د ملت ژغورنې اراده چې نه وي، نه خلیلزاد، نه روسیه او نه هم پاکستان دې ولس ته سوله راوستی شي.

د ذلت څپېړې هرچا خوړلې؛ خو ذلیل ژوند یوازې جهالان کوي.

په افغانستان کې د یو پیاوړي راتلونکي حکومت لپاره نه یوازې د څواکمنو ډلو له ځان تېرېدنه اړینه ده، ویښ او ننگیالي ولس ته هم اړتیا ده.

له بده مرغه صنعت او سوداگري په نشت حساب ده. په ښارونو کې لوستي ځوانان بې روزگاره دي. په کلیو کې نوی نسل تعلیم ته د نه لاسرسي له امله د جهالت په لور روان دی. دیني عالمان په فرقو او طریقو وېشل شوي.

هر یو ځان پر حق بولي او بل په بدعت تورنوي. سوال او دروېزه یوازې د بېوزله خلکو کار نه دی، په ځان جوړ غښتلي ځوانانو ته ننگ نه ښکاري، چې بل ته لاس اوږد کړي.

شخصي گټو دومره د خلکو سترگې پټې کړې چې ملي گټې یې یو ځل ذهن ته لا نه ورځي. د فساد په حرامو پیسو خلک حج کوي او په خپله شتمنۍ ویاړي.

پاکوالی او صداقت د بېعقلۍ او بزدلۍ نښه بولي. په یوه موبایل ټلیفون خلک وژل کیږي. پر سړک روانه ښځه د هر نارینه سترگې خښېږي او په دې عمل نه شرمېږي.

د افغانستان په غمیزه کې روس، امریکا یا پاکستان گرم بلل درد نه کموي. هغوی خپلو موخو ته کار کوي.

په بل هېواد کې لاسوهنه خپل حق بولي. خدای د هېڅ ملت یا شخص برخلیک نه بدلوي؛ مگر دا چې پخپله د بدلون په لټه کې شي. اراده چې نه وي، په تش توکل پورې ځان نښلول بې گټې دي.

# د مسکو د غونډې په درشل کې؛

## د افغان حکومت شپاړس کسیز پلاوی نن مسکو ته ځي



د مسکو کنفرانس په درشل کې د افغان حکومت یو پلاوی نن روسیې ته ځي. د راپورونو له مخې، دغه شپاړس کسیز پلاوی به د مسکو په غونډه کې گډون کوي او پر افغان سوله به بحثونه کېږي. طالبانو هم دغه غونډې ته د خپل لس کسیز پلاوي د لېږلو خبره کړې ده او په وینا یې، دوی هم په غونډه کې گډون کوي. د افغان حکومت په پلاوي کې د ملي مصالحې عالي شورا او سیاسي گوندونو استازي هم شامل دي. بلخوا ولسمشر غني یو ځل بیا ټینگار کړی، چې سوله یې ستره غوښتنه ده، خو پر اساسي قانون معامله نه کوي.

د روانې میلادي میاشتې په ۱۸مه په مسکو کې د افغان سولې په اړه کنفرانس جوړیږي. دغه کنفرانس د روسیې په کوربه توب او د امریکا، چین، افغان حکومت او طالبانو له گډون جوړیږي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په دې اړه ټولو اړخونو ته بلنلیکونه استولي دي چې د بهرنیو چارو وزارت هم په دغه غونډه کې د گډون لپاره د خپل پلاوي د لېږلو خبره کړې وه. د ملي مصالحې عالي شورا وایي چې د مسکو په غونډه کې به یو شپاړس کسیز پلاوی گډون وکړي.

د ملي مصالحې عالي شورا یوې سرچینې ویلي چې د پلاوي مشري به ډاکټر عبدالله عبدالله کوي او د پخواني ولسمشر حامد کرزي په گډون گڼ سیاسي شخصیتونه په دغه پلاوي کې شامل دي. سرچینه وایي، د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني، پخوانی ولسمشر حامد کرزی، مارشال عبدالرشید دوستم، د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار، د پخواني ولسمشر مرستیال کریم خلیلي، د ملي مصالحې عالي شورا مرستیال بابر فرهمند، د سولې په چارو کې د دولت وزیر سید سعادت منصور نادري، د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر محمد معصوم ستانکزی، د مذاکراتي ټیم غړی متین بیگ، د مذاکراتي ټیم غړی احمد نادر نادري، د مذاکراتي ټیم غړې حبیبه سرابي، د مشرانو جرگې مرستیال محمد علم ایزدیار، د سولې په چارو کې د دولت وزارت مرستیال عبدالله خنجانی، د حزب اسلامي غړی عبدالستار خواصي او د حزب اسلامي بل غړی غیرت بهیر د مسکو په غونډه کې د گډون کوونکي شپاړس کسیز پلاوي غړي دي.

سرچینه وایي چې دغه پلاوی به نن مسکو ته ځي او د مارچ په ۱۸مه به په جوړېدونکې غونډه کې گډون کوي. بلخوا د بهرنیو چارو وزارت بیا په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د مسکو او ترکیې غونډې د دوحې د غونډو او مذاکراتو بدیل نه دي، بلکې په دوحه کې به مذاکرات په خپل حال روان وي. بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې دا دواړه جوړېدونکي کنفرانسونه د دوحې د بهیر بشپړوونکي دي او تمه ده چې د سولې هڅې گړندۍ شي.

بهرنیو چارو وزارت دغه راز د سولې په برخه کې د سیمې د هېوادونو له هڅو او همکاریو هم مننه کړې ده او وایي څومره چې د افغان سولې په اړه د سیمې د هېوادونو همکاري او اجماع ډېرېږي دومره افغانان سولې ته نږدې کېږي. د سرچینې په وینا: «موږ د افغان سولې په برخه کې د نړیوالو او سیمه ییزو همکارانو له مرستو او همکاریو ستاینه او مننه کوو».

ددې تر څنگ ولسمشر غني بیا تېره ورځ په بهرنیو چارو وزارت کې یوه کنفرانس ته د خبرو پر مهال ویلي چې د سولې ملاتړی دی خو ددې ملاتړی نه دی چې له ټاکنو پرته دې واک بل چا ته وسپاري. د ده په خبره، که طالبان وغواړي څومره ژر چې کېږي، ټاکنو ته تیار دی، خو له ټاکنو او د خلکو له رایې پرته واک چا ته نه سپاري. د ده په وینا: «که طالبان وغواړي، همدا سبا هم ټاکنې کېږي. خو د اساسي قانون پر بنسټ له خلکو د رایې حق باید وا نه خیستل شي».

د ولسمشر دریځ د امریکا د وروستیو اقداماتو په تړاو تر پخوانیو دریځونو یو څه نرم ښکاري او داسې تمه شته چې دا ځل به د افغانستان د جگړې پای ته یوه معقوله لار پیدا کېږي.

### ملگري ملتونه:

# د سوریې خونړۍ جگړه د معاصر تاریخ تر ټولو بده پېښه ده

د سوریې لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي گایر پېدرسن اندېښنه څرگنده کړې، چې دغه سازمان تر اوسه پر دې نه دی توانېدلی چې د سوریې د جگړې په پای ته رسولو کې منځگړیتوب وکړي.

گایر پېدرسن د ملگرو ملتونو د امنیت شورا ته ویلي: «د سوریې غمیزه ښایي د معاصر تاریخ تر ټولو تور باب وي...د سوریې خلک د دې پېړۍ له سترو قربانیانو څخه دي.»

د سوریې لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي پېدرسن همداراز ویلي، د سوریې کورنۍ جگړه چې په ۲۰۱۱ز کال کې د حکومت ضد په سوله‌ییزو مظاهرو پیل شوه، کومې مظاهرې چې د جمهور رییس بشارالاسد د رژیم له خوا په وحشیانه توگه وځپل شوې، اوس دومره اوږده شوه، لکه دوو نړیوالو جگړو چې دوام کړی و.

هغه زیاته کړې: «اکثره سوري ماشومانو یوه ورځ هم پرته له جگړې ژوند نه دی کړی...زیات شمېر یې له خوړو، درملو او زده کړو بې برخې پاتې شوي یا هم بندیان شوي او د جگړې لپاره استخدام شوي دي، ټپیان او یا وژل شوي دي.» د سوریې د لس کلنې جگړې په ترځ کې د یاد هېواد له نیم میلیون ډېر وگړي وژل شوي او په میلیونونو نور کډوال شوي او یا هم دننه په هېواد کې بې ځایه شوي دي. دغه راز د دغه هېواد څه دپاسه نیمایي نفوس د خوړو له کمښت سره مخ دی او په هرو لسو سوریانو کې نهه یې په فقر او غربت کې ژوند کوي.

د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي ویلي، په تېر کال کې په سوریه کې یو څه ارامتیا رامنځ ته شوې. هغه د سوریې له مختلفو اړخونو او د جگړې له عمده نړیوالو لوبغاړو وغوښتل چې د ټول هېواد په کچه د اوربند د ټینگېدو لپاره هڅه وکړي. نوموړي د سوریې د مختلفو اړخونو ترمنځ د سیاسي جوړجاړي لپاره نړیوال ملاتړ مهم وباله او ویې ویل چې له یوې رغنده نړیوالې ډیپلوماسۍ پرته د سوریې په مشرۍ د سولې پروسه نه شي بریالۍ کېدای. د هغه په خبره: «دا جگړه په ژوره د یوه نسل له سختو نړیوالو شخړو څخه ده، کوم چې د سوریې پر خلکو پورې مربوط زیات موضوعات یې د سوریانو په لاس کې نه دي.»

په ورته مهال په ملگرو ملتونو کې د سوریې سفیر بسام الصباغ د ۲۰۱۱ز کال د سوله ییزو لاریونونو یادونه ونه کړه، خو پر ځای یې د اسد رژیم د پراخې نړیوالې دسیسې قرباني وگاڼه. هغه امریکا، برېټانیا، فرانسه او ترکیه د اسد د حکومت او پوځ د کمزوري کولو لپاره په بېساري یرغلگري جگړې ملامت کړل.


دغه راز په ملگرو ملتونو کې د امریکا استازې لیندا تماس گرینفېلډ وویل: «رژیم د سولې په لور یو گام هم نه دی پورته کړی.» هغې پر روسیې غږ وکړ، چې د اسد پر رژیم باندې فشار راوړي چې دا حالت پای ته ورسوي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دورانی: ځینې وایي، چې د بیرغ لکړه ISI جوړه کړې وه، کله چې ده د بېرغ لکړه ودروله، بیرغ ړنګ شو.
سېنها: په هماغه سفر کې مودي په لال چوک کې و. ایکتا یاترا ده اداره کوله.
دورانی: اوه! ما ولید، ما په هماغه وخت کې ISI رهبري کوله.
سېنها: نو نه یوازې دا چې د بېرغ لکړه تا نه ده ماته کړې، بلکې د هند راتلونکی لومړی وزیر دې هم نه دی پېژندلی.
دولت: ستره ناکامي ده.
دورانی: ښایي هماغه به زموږ تر ټولو ښې شېبې نه وې، خو هېڅا هم پر موږ تور ونه لګاوه. ښایي د بېرغ لکړه به موږ ماته کړې وي او جوشي به هم موږ بدنام کړی وي، ځکه چې د لومړي وزیر کېدو چانس یې نه درلود.
دولت: د بېرغ لکړه په کشمیر کې د ستونزو تاریخ لري. په ۲۰۱۷ کال کې د خپلواکۍ پر ورځ همدې ته ورته څه محبوبې ته هم هغه وخت ور پېښ شول، چې له پوځیانو سره یې روغبړ کاوه. محبوبې بیا د پلټنو امر ورکړ.
سېنها: ISI خو به لاس نه په کې درلود؟
دولت: ثوک پوهېږي، ما د پلټنو راپور نه دی لیدلی. ښایي دا کار ISI کړی وي.

### ۲۴
### جراحي حمله

سېنها: جراحي حمله راته توضیح کولی شې، چې آیا خپلو موخو ته ورسېده او د هند او پاکستان پر اړیکو یې اغېز درلود، کنه؟
دورانی: د پیل ټکی یې ښایي د کشمیر نارامۍ وي. ددې تور پر پاکستان نشي پورې کېدای، خو د مودي او د ډلې لایحو یې دا نارامۍ نشوای کنټرولولی. ښایي نور ډېر داسې انتخابونه به هم وو، چې د مودي ډلې ته یې خوند نه وي ورکړی، نو ښایي د پاکستان لاس به هم په کې و. دا شک هغه وخت په یقین بدل شو، چې د اوړي حملې وشوې.
دا چې د اوړي عملیات سوچه عملیات وو او که د دروغجن بېرغ ، مهمه نه ده. مهمه دا ده چې هند ته یې د مناسب غبرګون فرصت ورکړ. دا که کلاسیکه (جراحي حمله) وه، که نه، خو سم پیغام یې بیان کړ ـ په ځانګړې توګه د هېواد دننه.
ستاسو رسنیو ښه نغمه وغږوله، ډېر ښه غبرګون یې وښود. له مخامخېدو یې وژغورلو؛ له ستونزمنو حالاتو یې وژغورلو. کشمیر په ډېر سم وخت کې آرام شو. پاکستان په ډېرې هوښیارۍ هند پرېښود چې د ځان آبرو وساتي. نوی طبیعي وضعیت راغی. وبه ګورو چې نور څه کېږي.
په پوځي اصطلاحاتو کې جراحي حمله د دښمن تر لیکو ۲۰۰ کیلومټره شاته پر یوه ځانګړي حساس ځای باندې د برید په موخه د ځانګړو وسایلو، لکه هستوي وسایلو، GHQ یا اسامه بن لادن، ځای پر ځای کول هم کېدای شي. د کنټرول پر کرښه بمباري او د دښمن په خاوره کې دوه سوه متره دننه د یو څو وزو وژلو ته جراحي حمله نشو ویلی. خو ښایي دا کار مو یوې لویې موخې ـ په ځانګړې توګه سیاسي هغې ته ـ ورسوي. له همدې کبله یې ځینې سوچه جراحي حمله ګڼې، ځینې یې سیاسي جراحي حمله ګڼي او ځینې یې جعلي جراحي حمله ګڼي. په ټولو حالاتو کې یې موخه ستراتېژیکه وي.
سېنها: نو دا حمله چې لومړنۍ موخه یې د دښمن فوري تعقیب و، خلکو ته د سیاسي جراحي حملې په توګه ور وپېژندل شوه؟
دورانی: هو، د حملې موخه فوري تعقیب و. یو څوک کولی شي په مشروع توګه دښمن ددې لپاره تعقیب کړي، چې د دښمنۍ سرچینه په نښه کړي. ته نه پوهېږې چې په دې قضیه کې کوم ځای سرچینه ده، لاهور او که بل ځای، خو دا نه وه مهمه، مهمه دا وه چې هندي عوامو ته باید یو داسې څه بیان شوي وای چې آرام کړي یې وای.
د ۲۰۱٦ کال په اکتوبر کې زه په هرات کې وم. په هرات کې یو څوک پر دې خوشاله و چې پاکستان په خراب حالت کې وګوري. زموږ دوست نه و. زه یې هغه وخت هېښ کړم چې راته ویې ویل د افغانستان په اړه تر خبرو مخکې پوښتنه درڅخه کولی شم، چې د همدې جراحي حملې په اړه څه فکر کوې؟ ما فکر وکړ چې کله دومره پر یوه او بل سره بدګومانه شو چې پر دې قناعت نه شې ورکولی چې دغه حمله رښتینې حمله ده، نو زموږ لپاره ډېره بده نه ده.
دولت: دا چې زه نظامي سړی نه یم، نو د سپټمبر د ۹مې د جراحي حملې په اړه پر دې نه پوهېږم، چې جراحي حمله څه مانا لري؟ پر پوله بلد یم، ځکه چې زه څو ځله کشمیر ته لېږل شوی یم او پوله مې څو ځله له نږدې لیدلې ده.
یوه ورځ زه او جنرال صېب د ممبیي په اړه غږېدو چې جنرال صېب راته وویل، داسې حالات او وخت هم راځي چې مجبورېږې یو څه وکړې. که موږ سمې اړیکې او د یوه او بل په اړه سم معلومات درلودل، نو موږ درته ویلی شو چې څه وکړې.
**دوام لري...**

# د ژوند مهارتونه

اکسوس کتابپلورنځی

ژوند سیند ته ورته دی، چې روان وي او شاته نه راګوري. څومره چې ځي، بېرته نه را ګرځي. څومره چې زموږ عمر پخېږي، په هماغه کچه مو د عمر شپې او ورځې کمېږي. ژوند مانا دا چې له هېڅ څخه پیل کول او ډېر څه ته ځان رسول! ژوند د خوښیو او خپګانونو یوه ټولګه ده. ګورو چې یوه لحظه یې غم او بله یې خوښي ده او د دوی دواړو تر منځ فاصله ډېره کمه ده، نو ښه خبره دا ده، چې د خوښۍ له دې وړې او کمې فاصلې څخه په ښه ډول ګټه پورته کړو. ژوند یانې له لوړو او ژورو څخه تېرېدل. په ژوند کې هغه کسان بریالي دي، چې له دې لوړو او ژورو څخه ځان و ایستلای شي. ژوند هغه رود خانې ته ورته دی، چې کله له وچو تېرېږي او کله هم په بې سره او بې پایه اقیانوسونو ورګډېږي. که له ژوند سره وجنګېدو، تل به بریالي وو او که له دې جنګ نه په شا شوو، بیا وروسته ارمان ګټه نه لري. ژوند هغه ګل ته ورته دی، چې د ازغیو، ښنو پاڼو او ښکلي بوی درلودونکی دی. پام مو وي چې کله د ګلونو غنچه جوړوی، ښنې پاڼې، ازغي او ښایسته بوی ټول سره ګاونډیان دي. ژوند هغه لوی او سپین کاغذ ته ورته دی، چې د نقاشۍ لپاره تیار شوی وي. په دې سپین کاغذ چې څه لیکی، لیکلای یې شی، کولای شی خوښۍ او خوشالۍ رسامي کړی او یا هم ستونزې او کړاوونه. پرېکړه به ستاسو له عظمته ډک وجود او ذهن کوي. څه چې په ژوند کې ډېر اړین او مهم دي، هغه زموږ او ستاسو لیدلوری دی. څه ډول چې فکر کوی، ژوند به مو په هماغه ډول مخ ته ځي، نو ښه ده، چې تل مثبت فکر وکړئ او ژوند ته په ښه سترګه وګورئ. ژوند د فوټبال لوبې ته ورته دی، چې هېڅکله هم د وړاندوینې وړ نه دی، نو ځکه یې خوند هم په همدې کې دی. د غم او ښادۍ، د ښکلا او بدرنګۍ، د شپې او ورځې او بالاخره د مرګ او ژوند تر منځ فاصله دومره کمه ده، چې اصلاً د اندازې وړ نه ده. د ژوند مهارتونه کتاب تازه چاپ شوی دی. دغه کتاب حمیدالله حمیدي پښتو ژبې ته را ژباړلی او اکسوس کتابپلورنځي چاپ کړی دی. په دغه کتاب کې د ځیرکانه ژوندانه ۱۱٦ ګټورې تګلارې په ګوته شوې دي، لوستل یې در سره مرسته کوي څو په هغه ډول ژوند وکړئ، چې تاسو یې هیله لری.
کتاب په کابل کې پر اکسوس کتابپلورنځي سربېره، په لویو کتابتونونو او دغه راز په نورو ولایتونو کې هم په لویو کتابتونونو کې په مناسب قیمت تر لاسه کولای شئ.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | انساني څېرې او ناوړه کړنې | محمدیوسف روف | ۱۵۰؋ |
| ۲ | تجارت قرن ۲۱ | رابرت تی کیوساکی/محمدعلی عزیزی | ۱۵۰؋ |
| ۳ | ذهني انځورونه | محمدیوسف روف | ۷۰؋ |
| ٤ | د ژوند لار | ډیل کارنګي/محمدابراهیم‌شینواری | ۱۵۰؋ |
| ۵ | برمودا مثلث او دجال | عاصم عمر/عمران لمر | ۲۰۰؋ |
| ٦ | روش تحقیق در علم حقوق | میراخان قضاوی | ۱۳۰؋ |
| ۷ | کوه نور (د نړۍ تر ټولو بدنام الماس) | ویلیم ډالر ہمپل انیتا انند/طاهر صاحبزاده | ۲۰۰؋ |
| ۸ | AFGHANISTAN WHAT EVERYONE NEEDS TO KNOW | BARNETT R. RUBIN | ۲۷۰؋ |
| ۹ | GOOD ECONOMICS FOR HARD TIMES | ABHIJIT V. BANERJEE | ۲۳۰؋ |
| ۱۰ | HOW NATIONS SUCCEED | NURAT A. YULEK | ۲۵۰؋ |
| ۱۱ | ارتباطات سیاسی | عبدالقهار سروری | ۱۲۰؋ |
| ۱۲ | ارتباطات انسانی | عبدالقهار سروری | ۱۲۰؋ |
| ۱۳ | روش شناسی تحقیق | عبدالقهار سروری | ۷۰؋ |
| ۱٤ | نقش رسانه ها و روابط عمومی در مدیریت بحران ها | جاویده احمدی | ۱۸۰؋ |
| ۱۵ | سروی در راه سازی | محمداشرف قاضی‌خانی | ۳۰۰؋ |
| ۱٦ | سنجش مصارف | نذیر احمد شهیدی | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | مسایل بین المللی پول | نذیراحمد شهیدی | ۱۸۰؋ |
| ۱۸ | بانک سوالات برق | عبدالناصر کاظمی | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | ارواپوهنه د ټولو لپاره | مصطفی صفا | ۲۰۰؋ |
| ۲۰ | کاملترین مجموعه و سوالات ستاژ | محب الله راشد | ۳۲۰؋ |
| ۲۱ | ارتباطات سازمانی | عبدالقهار سروری | ۸۰؋ |
| ۲۲ | د اسلامي بانکوالۍ بنسټونه | محمدتقی‌عثمانی‌مدظله/شیراغا کریمي | ۱۸۰؋ |
| ۲۳ | عقاید اسلامی جزء اول | داد محمد نذیر | ۲۵۰؋ |
| ۲٤ | عقاید اسلامی جزء دوم | داد محمد نذیر | ۲۵۰؋ |
| ۲۵ | عقاید اسلامی جزء سوم | داد محمد نذیر | ۲۳۰؋ |
| ۲٦ | عدم تشدد (ځلور رهبران یوه لار) | ایمل همدرد | ۱٤۰؋ |
| ۲۷ | تاریخ معاصر افغانستان (از دوره احمدشاه ابدالی الی اکنون) | اکبرجان آرزومند | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | تفسیر معارف القران پښتو بشپړ متن ۱۰ ټوکه | مولانا مفتی محمدشفیع | ۱۸۰۰؋ |
| ۲۹ | جنایي‌ارواپوهنه | شراف الدین عظیمي/صفی الله ناصري | ۱۵۰؋ |
| ۳۰ | د ژوند مهارتونه (د ځیرکانه ژوندانه ۱۱٦ ګټورې تګلارې) | ارنولډ لازاروس، کلیفورډ لازاروس/حمیدالله حمیدي | ۱۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۸ |
| Rp. | ٤٨٤ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۶,۸ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# د پرمختګ رازونه؛ څو یې دلته ولولئ

ملیحه ناصري

ښايي تر اوسه مو د ژوند دقيقه او کره پېژندنه وي اورېدلې، يا مو خپله له شرعي حکم پرته د ژوند اصلي مانا نه وي موندلې؛ خو په ټوله کې ويلی شو چې ژوند د ښو او ناوړه تجربو ټولګه ده. انسان يوازې يو ځل چانس لري چې ګټه ترې پورته کړي.

نو پر موږ لازمه ده چې ژوند هغسې وکړو چې بايد وکړل شي. پر يوه ځای له ناستي يا نه تحرک باندې ژوند مخته نشي تللی. هر څوک د ژوند لپاره يو تګلاره لري. که څوک بریالی/ۍ هم وي، هرومرو یې د ژوند د پرمختګ لارې چارې موندلې او پر رازونو یې پوه شوی/شوې دی/ده.

دې ليکنه کې د ژوند د پرمختګ څو رازونه درسره شريکوو، څو تاسو هم د نورو په څېر بریالي کسان واوسئ.

**۱-د ژوند موخې مو مالومې کړئ!**

وايي: (د ژوند ستره تراژيدي مرګ نه، بې موخې ژوند کول دي)؛ نو هرومرو د خپل ژوند او پرمختګ په خاطر درې ډوله موخې ځان ته وټاکئ:

ورځنۍ؛
لنډمهاله؛
او اوږدمهاله.

تر ټولو بریالی کس هغه دی/ده چې د موخو په ډلبندۍ پوه او په عملي کولو پسې لاس پر کار شي. ډېر کسان شته چې د موخو اوږد لړلیک ورسره پروت دی؛ خو د سستۍ او لټۍ له وجې کار نه ورته کوي، هماغه ده چې له هومره پوهې سره سره بیا هم د ټولنې تر نورو وګړو يې د ژوند چارې شاته پاتې او ګډې وډې وي.

هڅه وکړئ چې موخې مو پر کاغذ ولیکئ. دا لیکل تاسو ته د کار عملي کولو زړه درکوي، انرژي دربښي چې چټک او ځواکمن پرې ورشئ.

**۲-مسووليتونه مو معلوم کړئ!**

ځينې کسان پر دې باور دي چې د خوشحالۍ راز په بې پروايۍ يا مسووليت نه منلو کې دی؛ خو دا کسان تېروتي دي. هغه څوک چې خوش طبيعته دي، هغوی خپل مسووليتونه پر ځای کړي چې د خوښۍ مجال يې موندلی. که چېرې څوک خپل مسووليت ونه پېژني او ويې هم نه مني، خامخا پاتې راځي او بدبخته کېږي. هېڅکله له بل چا، آن له ډېر نږدې کس نه مو دا تمه مه لرئ چې ستاسو د ګرانښت له امله دې ستاسو مسووليت در په ګوته يا درته پر ځای کړي. ځينې وخت بايد انسان انفرادي پرېکړې وکړي، خپل مسووليتونه وپېژني او پر ځای يې هم کړي. مه هېروئ چې نېکمرغه انسان، مسووليت منونکی هم دی.

پر دې سربېره، هر کار مو چې وکړ، مسووليت يې هم ومنئ. که چېرې کار درنه خراب شو او چاره ورانه شوه، پلمې مه تراشئ ! بې مسووليته انسان د نورو د اوږو پېټی وي!

**۳-بې ځايه او ناشونې تمې مه لرئ!**

که چېرې تاسو له ژونده دا تمه لرئ چې هر څه دې ستاسو په خوښه په سيستم برابر او نارمل روان وي، ناشونې ده. ژوند لوړې ژورې لري. ښايي تاسو هممهاله څو ځايه دندې ولرى او غواړى نورې زده کړې هم وکړى. دا امکان نه لري چې ټول دې منظم مخته يوسئ؛ نو خپله هڅه کوئ، د زده کړو له داسې تګلارو ځان خبر کړئ چې هم مو دندې سمبال کړئ او هم مو لوړې زده کړې بشپړې کړئ.



**۴-پر خپلو وړتياوو باور ولرئ!**

هغه انسان چې تل ناکامي په ذهن کې پالي او تصور يې منفي وي، د بريالي کېدو امکان يې لږ دی. بريالي کسان دا ځانګړنې لري چې د سخت او منظم کار تر څنګ پر ځان وياړي، پر خپلو وړتياوو باور لري، مثبتې جملې ځان ته تلقين کوي او ځان بريالی انځوروي.

**۵-مثبت بدلون راولئ!**

پر ځان، ژوند، کړنو، عادتونو، ذهن او فکر مو تمرکز / غور وکړئ. د کمزورتيا ټکي مو ومومئ، تر موندلو وروسته يې لرې کولو ته متې ونغاړئ. منفي ټکي مو پيدا کړئ او په له منځه وړلو يا سمون کې يې عملي ګامونه پورته کړئ.

**۶-مبارزه مو عادت وګرځوئ!**

دا مه هېروئ چې پياوړي او ځواکمن شخصيتونه د ژوند ناخوالو ته نه تسليمېږي، مبارزه کوي. تر هغو مبارزې ته دوام ورکوي چې د پرمختګ پر لاره شته خنډونه له منځه يوسي. له پرمختګ مو موخه بې فرهنګي او بې ديني نه ده، بلکې مثبت بدلون دی.

**۷- پر يوه بريا بسنه مه کوئ!**

ځينې کسان داسې وي چې کله يې يوه موخه پوره شي، بله نه لري، استدلال يې دا وي چې زه مې خپلو موخو ته رسېدلی يم؛ نور به نو څه وکړم؟!

حال دا چې هر انسان د تازه تازه هيلو په څېر، نوې نوې موخې هم بايد ولري، څو ژوند يې بې رنګه او پيکه نشي. د بريا او موخو مزل مو مه ختموئ، بسنه مه کوئ، هڅو ته دوام ورکړئ چې بريالي پاتې شئ.

**۸-منفي اندونه ووژنئ!**

ځينې کسان د موخو په ترلاسي کې سخت سرګردانه او لالهانده وي؛ خو نشي ورته رسېدلی. ولې؟

ځکه چې کار يې خام وي، بنياد نه لري، ذهن باندې يې د منفي افکارو ځای وي. له ذهنه مو منفي افکار داسې وشړئ او ومينځئ، لکه ميکروب چې له پوستکي لرې کوئ.

**۹-هڅه وکړئ؛ خو ځان ته د ټولکماله فکر مه کوئ!**

په ذهن کې داسې افکار مه روزئ چې د جامع الکمالات فکر ځان ته وکړئ. هېڅ انسان ټولکمال نه دی. ټول خلک کمۍ او نيمګرتياوې لري. که چېرې تاسو فکر کوئ چې په کاري چاپېريال کې تل تاسو نخبه او غوره اوسئ، تېروځئ. که فکر کوئ چې له ما پرته بايد رييس/مدير بل چا ته ارزښت ورنه کړي، تېروځئ. هر انسان داسې يوه ځانګړنه لري چې بل يې نه لري. ته داسې ځانګړنه لرې چې بل يې نه لري، هغه يې چې لري بيا يې ته نه لرې؛ نو له هر انسانه هومره تمه وي، هومره ارزښت ورکړل کېږي چې ظرفيت يې لري. نيمې چارې به تاسو ډېرې ښې سمبالولی شئ، نيمې مو نور همکاران؛ نو د بل چا له ستايلو ځان کم مه ګڼئ. تاسو په خپل وخت پکار کېږئ، هغوی پر خپل وخت.

# بهرنيو چارو وزارت: له ايران څخه ۶۰۹ تنه نور افغان بنديان هم هېواد ته راولېږدول شوي

بهرنيو چارو وزارت وايي چې له ايران څخه ۶۰۹ تنه نور افغان بنديان هېواد ته راستانه شوي دي.

ياد وزارت ويلي، چې په نويو را انتقال شويو افغان بنديانو کې ۱۲ ښځې هم شاملې دي. د ياد وزارت له خوا په خپره شوې اعلاميه کې ويل شوي: «د دې بهير په بريالي پلي کېدو سره، ۶۰۹ تنه افغان بنديان چې ۱۲ مېرمنې هم پکې شاملې وې، د ډوغارون پولې له لارې هېواد ته انتقال شول.»

دغه بنديان د افغان حکومت او ايران د هوکړې په اساس افغانستان ته انتقال شوي چې تاکل شوې د خپل بند پاتې موده په افغانستان کې تېره کړي.

د بهرنيو چارو وزارت د معلوماتو په اساس، د ياد بهير د پيل په لومړي پړاو کې تېره اونۍ ۳۰۶ تنه نور افغان بنديان هېواد ته را انتقال شول. ياد افغان بنديان د بېلابېلو جرمونو په تور د ايران په زندانونو کې بنديان وو.

په ورته مهال په کابل کې د ايران سفير بهادر امنيان د افغانستان له عدليې وزير فضل احمد معنوي سره په يوې ليدنه کې ويلي وو، چې دا مهال شاوخوا ۲۰ زره افغانان په ايران کې بنديان دي، چې له دې شمېرې د ۲۶۰۰ بنديانو دوسيې بشپړې او افغانستان ته د لېږدولو لپاره چمتو شوي دي. دغه راز ايران له افغانستان څخه غوښتې، چې د هغو ايراني بنديانو لېږدولو ته پاملرنه وکړي، چې د افغانستان په زندانونو کې بنديان دي.

د يادونې ده چې له يو ميليون زيات افغانان په ايران کې مېشت دي چې ډېری وختونه ځينې يې د ايران د حکومت له خوا په بېلابېلو تورونو نيول کېږي، په زندانونو کې اچول کېږي او ان ځينې نور خو يې اعدام شوي هم دي. تر دې وړاندې د بشري حقونو نړيوالو مدافع بنسټونو د ايران حکومت له افغان زندانيانو سره د په ناوړه چلند تورن کړی دی.

# د بښنې نړيوال سازمان: افغان حکومت د خلکو د خونديتوب په برخه کې پاتې راغلی

د بښنې نړيوال سازمان يو ځل بيا په افغانستان کې د روان ترينګلي امنيتي وضعيت په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده. دغه سازمان په خپل تازه راپور کې ويلي، چې افغان حکومت تر اوسه د بشري حقونو د مدافعينو او مدني فعالانو د امنيت د خونديتوب لپاره د پام وړ اقدام نه دی کړی .

په ياد راپور کې اندېښنه ښودل شوې، چې ورځ بلې د بشر د حقونو د مدافعينو او مدني فعالانو امنيتي ستونزې زياتې او سختېږي. د بښنې نړيوال سازمان په خبره، درې مياشتې مخکې د ولسشمر غني د يو فرمان له مخې چې د بشر د حقونو د ساتلو په برخه کې، چې کوم کمېسيون جوړ شوی تر اوسه يې کومه لاسته راوړنه نشته او دوی دغه کمېسيون تش په نوم ياد کړی دی.

د ياد سازمان په راپور کې نيوکه شوې، چې تر اوسه د دغو افغان فعالينو د امنيت د خونديتوب لپاره د حکومت له لوري کومه ځانګړې ستراتېژي نه ده جوړه شوې.

خو د کورنيو چارو وزارت وياند طارق ارين د دغه سازمان د راپور په اړه وايي چې دوی له ګواښ سره مخ افغان فعالينو لپاره ځانګړي امنيتي پلانونه لري.

ارين زياته کړې: «د کورنيو چارو وزارت وار له مخې د ټولو هېوادوالو په ځانګړې توګه د بشر د حقونو مدافعينو او مدني فعالانو د امنيت د خونديتوب لپاره وخت په وخت اقدام کړی، که څوک له امنيتي ګواښ سره مخ وي، موږ ورته امنيتي پلانونه لرو او په دې اړه ورسره مشورې هم شريکوو، له بلې خوا موږ د جګړې په حال کې يو، بيا هم د دوی د امنيت د خونديتوب لپاره هڅې کوو.»

دا اندېښنې داسې مهال مطرح کېږي، چې په وروستيو پنځو مياشتو کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې خبريالان، د رسنيو کارکوونکي، د بشري حقونو فعالان، ديني عالمان او يو شمېر دولتي کارکوونکي ووژل شول.

بلخوا د بشر د حقونو د څار نړيوال سازمان هم د افغانستان د اوسني امنيتي وضعيت په اړه اندېښنه ښيي او د افغان حکومت پر جدي پاملرنې يې ټينګار کړی دی.

په استراليا کې د دغه سازمان د رهبرۍ د بورډ غړي ماهر مومند ازادي راډيو ته ويلي، چې د ټولو خلکو خونديتوب پر منتخب حکومت د دوی حق دی او بايد افغان حکومت ورته پام وکړي.

هغه ويلي: «که څه هم افغان حکومت خپله ډېر کمی لري، خو بايد د دغو فعالينو د ژوند خونديتوب ته جدي پام وکړي، څو داسې ټولنه ولرو چې په هغه کې د بشر حقونو مدافعين، مدني فعالان، ژورنالېستان او ټول خلک خوندي ژوند وکړي، چې دا د دې لامل کېږي، څو د نورو ناخوالو مخنيوی وشي او د دولت پر کړنو کره کتنه وکړي.»

مسیر ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۷مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۷مه | ۶۹۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۴ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۶ | ۱٦ |
| ۵ | ۱۱ | ۹ | ۱۰ | ۱۳ | ۵ |


شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۹ | لمر ختل ۰٦:۰۲ | ماسپښين ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰٤:۱۹ | ماښام ۰٦:۰۲ | ماخوستن ۰۷:۲۲

## نړۍ



**ملګري ملتونه: د سوریې خونړۍ جګړه د معاصر تاریخ تر ټولو بده پېښه ده** ۳

## بلینکن: د لاریونوالو پر وړاندې د میانمار د پوځ ځپونکي اقدامات د منلو نه دي



د امریکا متحده ایالتونو د میانمار پوځ تورن کړی، چې له سوله‌ییزو لاریونوالو سره یې وحشیانه چلند کړی او له یانګون ښاره ډېر کسان د امنیتي ځواکونو د بد چلند له امله وتلي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن په توکیو کې د میانمار پر پوځ دا نیوکي وروسته تر هغې وکړې، چې له اعتراض کوونکو سره د امنیتي ځواکونو د شخړې پر مهال لږ تر لږه ۷۴ کسان ووژل شول. بلینکن ویلي، په میانمار کې پوځ غواړي چې د ډیموکراتیکو ټاکنو پایله بدله کړي او په ظالمانه ډول سوله‌ییز لاریونوال وځپي. د یادونې ده چې په میانمار کې د تېرې میاشتې په پیل کې پوځ د یاد هېواد مشره انګ سان سوچي ونیوله، حکومت یې ړنګ کړ او له هغه وخت راهیسې په دغه هېواد کې پراخ لاریونونه روان دي چې په ځینو حالتونو کې د پوځ له جدي اقداماتو سره هم مخ شوي دي. اعتراض کوونکي د انګ سان سوچي د خوشې کېدو او ډیموکراتیک حکومت ته د واک د بېرته ورسپارلو غوښتنه کوي. بلخوا پر امریکا سربېره، ملګرو ملتونو، اروپایي هېوادونو او نورو سازمانونو هم پر میانمار غږ کړی چې له لاریونوالو سره دې له تشدد څخه لاس واخلي.

## در تیراندازی بر موتر حامل محصلین و استادان پوهنتون بغلان ده تن کشته و زخمی شدند



در تیراندازی بر موتر حامل محصلین و استادان پوهنځی زراعت پوهنتون بغلان، دو تن کشته شده و دست‌کم هشت نفر دیگر زخم برداشته‌اند.
طبق اعلام پولیس بغلان، موتر حامل استادان و محصلین پوهنځی زراعت پوهنتون بغلان در منطقه خلازایی و نزدیک فابریکه قند بغلان، مورد تیراندازی گروه طالبان قرار گرفت.
در این رویداد راننده و یک محصل کشته شده‌اند و رئیس پوهنځی با هفت تن دیگر زخم برداشته است.
احمد جاوید بشارت، سخنگوی پولیس بغلان، می‌گوید صبح روز دوشنبه طالبان در منطقه فابریکه قند، بر موتر حامل استادان و محصلین تیراندازی کرده‌اند که راننده و یک محصل کشته شده و هشت تن دیگر زخم برداشته‌اند.
با این حال، گروه طالبان دست داشتن افراد این گروه در حمله بر موتر حامل استادان و محصلین را رد کرده است.
قاری معین‌الدین، رئیس پوهنځی زراعت که خود نیز از ناحیه سر زخم برداشته است می‌گوید که در این رویداد راننده و یک محصل زراعت که باشنده تخار بود، کشته شده‌اند و چندین استاد و محصلان دیگر زخم برداشته‌اند.
وی می گوید مسیر پوهنتون بغلان ناامن‌ترین مسیری است که استادان و محصلان همه روزه می‌پیمایند و بار بار در خط جنگ گیر مانده‌اند که با وجود چندین بار تقاضای رسمی و غیررسمی، حکومت هیچ توجهی در قبال انتقال دانشگاه به داخل شهر پلخمری یا یک ساحه مصون‌تر انجام نداده است.

## اعلان داوطلبی

| شماره | جنس | مقدار | مارکه | صنعت | قیمت فی کیلو | قیمت مجموعی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آرد خوب سفید | ۱۱.۸۵ تن | خوراکه | قزاقستا نی | | |
| ۲ | سیله درمیانه | ۵.۹۲۵ تن | درمیانه | هندی | | |
| ۳ | روغن مومن + عزیزحیات | ۳.۵۵۵ تن | مؤمن + عزیز | اماراتی | | |
| ۴ | بوره میده سفید | ۳.۵۵۵ تن | میده | اندونیزیایی | | |
| ۵ | لوبیا | ۳.۵۵۵ تن | سرخ | ترکمنی | | |
| ۷ | قیمت تهیه و توزیع و بارگیری و رساندن آن به اماکن توزیع در ولایات | | | | | |
| ۸ | قیمت تیارکردن فی کارتن کارتن با چاپ شعار دفتر علیه هر کارتن | | | | | |
| ۹ | قیمت مجموعی یك کارتن بادرنظرداشت همه مصارف فوق الذکر و تادیه مالیه | | | | | |

سازمان (MWL) میخواهد از طریق شرکت‌ها و مؤسسات ذیربط که با ارگان‌های ذیربط دولتی ثبت و راجستر باشد، جواز فعالیت آن مدار اعتبار و تصدیق تصفیه حسابات مالی خودرا از وزارت مالیه در دست داشته باشد، مواد فوق الذکر را خریداری نماید، بناء شرکت‌ها و مؤسسات یکه دارای مواصفات فوق باشند، می توانند در داوطلبی شرکت کنند و شرطنامه را از این دفتر اخذ و نرخ خودرا الی تاریخ ۱۹ / ۰۳ / ۲۰۲۱ میلادی از طریق ادرسهای ذیل به این دفتر تقدیم نمایند، تادیه مالیه به وزارت مالیه از پروژه فوق الذکر به دوش شرکت برنده می باشد، ضم فوتوکاپی جواز همرای نرخ لازمی است (اماکن توزیع- مطابق هدایت مسؤولین ولایات ).

**آدرس:** شش درك، خانه (۷)، نزدیك دفتر سابق دی ایچ ایل، سرك عمومی دفتر سازمان مذکور
**ایمیل:** iiro_kabul_4u@hotmail.com
**تلیفون:** ۰۰۹۳۷۹۱۲۲۰۲۳۲
**پوست بکس:** (ص – ب – ۳۱۸۱ وزارت مخابرات کابل افغانستان)

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

1515 www.azizibank.af

